# د وسیلې برکتونه

(25-September-2025)



هفته واره د سنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پهٔ 25 ستمبر، کال 2025ء (متوقع اسلامي تاريخ، يکم ربيع الثاني ، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ
هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د وسيلې برکتونه

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د مُحَمَّد نوم وسيله يې پهٔ کار راغله
- د کاميابۍ درې اُصول
- وسيله د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام طريقه ده
- د غار نه نجات څنګه حاصل شو (واقعه)

پيشکش
اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبه: بيانات دعوتِ اسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله     وَعَلٰى اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله     وَعَلٰى اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

حضرت اَبُو فَضل قُومَسَاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډېر لوئي عاشقِ رسول او نيک انسان وو، يو ځل د خراسان يو عاشقِ رسول هغوئي له راغلو او اوئې وئيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زۀ پۀ مسجدِ نبوي شريف کښې اودۀ ووم چې پۀ ما باندې کرم وشو، عَرش ته تلونکې نبي، د جنّتونو سيل کوونکې نبي، د رَبّ محبوب نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما پۀ خوب کښې تشريف راوړلو- د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکو شونډو حرکت وکړو او د رحمت ګلونه ترې راودرېدل، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: چې کله تۀ هَمَدان (ښار) ته لاړ شې نو اَبُو فَضل قُومَسَاني ته زما سلام ووايه- ما عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! پۀ هغوئي باندې د دې ګرم وجه څۀ ده؟ اوئې فرمائيل: هغه پۀ ما باندې روزانه 100 کَرَته درود لولي- [1]

| | |
|---|---|
| اس جوابِ سلام کے صدقے! | تاقیامت ہوں بے شمار سلام |
| میری بگڑی بنانے والے پر | بھیج اے کردگار سلام |
| اس پناہِ گنہگاراں پر | یہ سلام اور کروڑ بار سلام (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... تاریخ الاسلام للذہبی، جلد:10، صفحه:257، رقم:17516-

2... ذوقِ نعت، صفحه:170، 171 ملتقطًا-

# د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښېنم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د پاک نوم پهٔ وسيله يې فتح نصيب شوه

د هجرت نه مخکښې واقعه ده، دا هغه وخت وو کله چې به خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عربو مختلفو قبيلو له د اِسلام دعوت ورکولو۔

د معجمِ کبير پهٔ روايت کښې دي: پهٔ دغه ورځو کښې د قبيله بَنُو ذُهل خلق مکے مکرمې ته راغلل۔ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل يارِ غار د مسلمانانو د وړومبي خليفه عاشقِ اکبر حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وفرمائيل: ابو بَکر---!! لاړ شه او دوئي ته د اِسلام دعوت ورکړه---!! حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ تشريف يوړلو، د هغوئي د سردار سره ميلاؤ شو او د اِسلام دعوت يې ورکړو۔

اوس هغه کوم چې سردار وو، اوئې وئيل: نن سبا زمونږ د فلانکۍ قبيلې سره جنګ شروع دے۔ چې د دې نه وزګار شو نو بيا به ستاسو د دعوت پهٔ باره کښې سوچ کوو۔ حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هغه نور پوهه کړو، اخر هغه هم دغه ووئيل چې جنګ ختم شي، بيا به مکے مکرمې ته درځو، بيا به د اِسلام پهٔ دعوت باندې پهٔ سنجيدګۍ سره غور

---

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

کوو- حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ واپس تشريف راوړلو، هٔغه قبيلې والا پهٔ خپله لار روان شول، اخر هٔغه ورځ هم راغله پهٔ کومه ورځ چې د **بنو ذُهل** يعني د هغوئي د قبيلې والؤ د بلې قبيلې سره جنګ کيدلو-

سپاهيان ميدان ته راوتل، جنګ بس شروع کيدو والا وو، چې د قبيلې سردار د قبيلې والؤ نه پوښتنه وکړه: هٔغه ابو بکر [رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ] کوم چې مونږ ته د هٔغې هستۍ پهٔ باره کښې دعوت راکولو، د هغوئي نو څهٔ دے؟ ووئيلے شو: د هغوئي نوم مبارک مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) دے- سردار ووئيل: **بس! نن ستاسو وسيله هم دغه نوم دے، د جنګ پهٔ وخت د مُحَمَّد نوم اخلئ---!!**

اَللّٰہُ اَکۡبَر! لا اِسلام يې قبول کړے نهٔ دے،بس د اسلام دعوت ورته رسيدلےوو سردار ته اندازه لګيدلې وه چې دا چې کوم نوم دے،دا ډير د برکت والا دے، که دا نوم مو اخستلو نو فتح به زمونږ وي، نو هغهٔ ټولو سپاهيانو ته تلقين وکړو چې نن د جنګ پهٔ وخت مُحَمَّد نوم اخلئ- ټولو هم داسې وکړل، اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! د مُحَمَّد نوم پهٔ برکت د هغوئي پهٔ جنګ کښې فتح نصيب شوه-

کله چې دا خبر رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته راورسيدو نو اوئې فرمائيل: بِیۡ نُصِرُوۡا يعني زما د وسيلې برکت د هغوئي نصيب شو چې د هغوئي غيبي مدد وشو او هغوئي پهٔ جنګ کښې کامياب شو-(1)

| | |
|---|---|
| مُحَمَّد کا لطف و عطا اللہ! اللہ! | مری رُوح و دِل پر ہُوا اللہ! اللہ! |
| مُحَمَّد مُحَمَّد وظیفہ ہے میرا | مُحَمَّد کی ہر دَم نِدا اللہ! اللہ! |

## د مُحَمَّد نوم وسيله يې پهٔ کار راغله

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! اللہ پاک پهٔ مُحَمَّد نوم کښې ډير برکتونه ايښودي

1…معجم کبیر، جلد:3، صفحه:424423، حدیث:5387 مفصلاً-

دي- ❁ د دې پاک نوم وسيله چې پيش کوئ نو **الله** پاک دعاګانې قبلوي ❁ د دې پاک نوم وِرد چې کوئ نو **الله** پاک بلاګانې لرې کوي ❁ د دې پاک نوم پۀ وسيله باندې دُعاګانې قبليږي، **الله** پاک شفاګانې عطا کوي ❁ دا پاک نوم چې ښکل کړې او پۀ سترګو يـې پورې کړې نو رَبِّ کريم سترګې روښانه کوي ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې پاک نوم پۀ برکت باندې زړونه روښانه کيږي ❁ د دې پاک نوم پۀ برکت باندې ژوند ښۀ کيږي ❁ وران کارونه سميږي ❁ قبر روښانه کيږي ❁ او **الله** پاک د دې پاک نوم پۀ برکت باندې جنَّت عطا کوي-

د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مداح مولانا جميل رضوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هم ښومره ښکلې خبره کړې ده، ليکلي يـې دي:

آنکھوں کا تارا نامِ مُحَمَّد | دِل کا اُجالا نامِ مُحَمَّد
دولت جو چاہو دونوں جہاں کی | کر لو وظیفہ نامِ مُحَمَّد
اللہ والا دَم میں بنا دے | اللہ والا نامِ مُحَمَّد
پائیں مرادیں دونوں جہاں میں | جس نے پُکارا نامِ مُحَمَّد
دونوں جہاں میں دُنیا و دِیں میں | ہے اِک وسیلہ نامِ مُحَمَّد (1)

## وسيله کامیابي ور کوي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږه روايت واوريدو، قبيلې والؤ لا ايمان هم نۀ وو راوړے، د دې نه مخکښې چې يـې کله د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم واخستو نو **الله** پاک د دې پۀ وسيله باندې هغوئي ته فتح عطا کړله- معلومه شوه چې وسيله کامیابي عطا کوي- آؤ جي! وسيله يعني د **الله** پاک پۀ حُضُور کښې وسيله وړاندې کول، داسې عرض کول چې اے الله پاکه! ❁ د خپل فلانکي بنده پۀ برکت سره ❁ د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام پۀ برکت سره ❁ د اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم پۀ برکت سره ما ته کاميابي راعطا

1...قبالۂ بخشش، صفحه:134133 ملتقطاً-

کړې، د دې وسيلې د پيش کولو په برکت سره **الله** پاک کاميابيانې عطا کوي- په قرآنِ کريم کښې دي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ ابْتَغُوْۤا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ وَ جَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهٖ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴿۳۵﴾ (پاره:6، سورهٔ مائده:35) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے ايمان والؤ! د الله نه ويريږئ، او د هغهٔ طرف ته وسيله ولټوئ او د هغهٔ په لاره کښې جهاد وکړئ په دې اُميد چې تاسو کاميابي ومومئ- |

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې آيت مبارک کښې د دريو خبرو حکم راکړے شوے دے:

(1): فرمائي: اِتَّقُوااللّٰهَ: يعني تقوىٰ اِختيار کړئ...!! که مونږ هر يو کار کول غواړو، په هغې کښې مونږ کاميابي غواړو او مستقل کاميابي غواړو، داسې کاميابي کومه چې صرف د دُنيا تر حده پورې نهٔ وي بلکې په اخرت کښې هم کامياب شو، د داسې کاميابۍ د پاره دې په هُغه کار کښې تقوىٰ اِختيار کړے شوي- مثلاً ❀ تاسو څهٔ کاروبار (***Business***) شروع کول غواړئ ❀ په هغې کښې د سود د لين دَين نه ځان بچ ساتئ ❀ خلقو له د دوکې ورکولو نه ځان ساتئ ❀ د دروغو وئيلو او د دروغو قَسمونو خوړلو نه ځان ساتئ ❀ په ناپ تول کښې د کمې وغيره نه ځان بچ ساتئ ❀ هم داسې د تعليم (***Education***) معامله ده، تاسو تعليم حاصلوئ، که غواړئ چې په تعليم کښې کاميابي حاصله کړئ، ستاسو تعليم ستاسو د پاره د دُنيا او د اخرت د کاميابۍ ذريعه جوړه شي ❀ په دې کښې د ګناهونو نه ځان ساتئ ❀ په امتحان کښې د نقل نه ځان ساتئ ❀ د اِسلام مخالف (***Anti-Islam***) خبرو لوستلو، اوريدو، نورو ته د رسولو نه ځان بچ ساتئ ❀ هم داسې د وادهٔ ښادۍ (***Marriage***) معامله ده، په دې کښې د ګناهونو نه ځان ساتئ ❀ د ډولونو تماشو نه ځان ساتئ ❀ د سازونو د ګډا محفلونه مهٔ جوړوئ، غرض مونږ چې کوم کار هم کوو، که

مونږ غواړو چې زمونږ په دې کښې مستقل کاميابي نصيب شي، داسې کاميابي نصيب شي چې د دُنيا سره سره مو په اخرت کښې هم په کار راشي، دې د پاره **د ټولو نه وړومبے اُصول دا دے** چې په هغه کار کښې څومره هم د ګناهونو ذريعې جوړيږي، د هغې نه ځان ساتئ۔

(2): فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ ابْتَغُوْۤا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** يعنې د الله پاک طرف ته وسيله ولټوئ۔ |

(3): په دريم نمبر باندې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ جَاهِدُوْا فِیْ سَبِیْلِهٖ | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** او کوشش وکړئ د الله په لار کښې۔ |

يعنې کوم کار چې کوئ، د هغه کار په باره کښې مو تقویٰ اِختيار کړه، وسيله مو پيش کړه، بيا ښهٔ کوشش کوئ!

دا درې کارونه چې وکړئ نو څهٔ به ميلاؤيږي؟ فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ۝۳۵ | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** په دې اُميد چې تاسو کاميابي ومومئ۔ |

❀ په دُنيا کښې ❀ په اخرت کښې ❀ په ژوند کښې ❀ د مرګ نه پس په راتلونکې ژوند کښې ❀ د ژوند په هر يو ميدان کښې ❀ په قبر کښې ❀ په حشر کښې ❀ په ميزان باندې ❀ په پل صراط باندې په هر ځائے کښې به مو کاميابي نصيب شي۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د دې آيت مبارک نه معلومه شوه چې که هر کار وي، هر قِسمه جائز خواهش وي، جائز ارمان وي ❀ مونږ سفر کوو، ارمان مو دے چې صحيح سلامت کور ته واپس راشو ❀ د شپې چې اوده کيږو نو په زړهٔ کښې ارمان دے چې سحر په صحيح سلامت راپاځيدو کښې کامياب شو ❀ کار مو انښتے دے ❀ کاروبار ولاړ دے

❁ معاشي تنګدستي ده ❁ قرض راباندې دے ❁ په امتحان کښې کاميابي په کار ده ❁ بيماران شوي يو، شِفا په کار ده ❁ د څه خبرې ويره ده، امن غواړو- غرض چې څه کار هم کول وي، په هغې کښې کاميابي غواړو- که مونږ کاميابيدل غواړو، دې د پاره ضروري دي چې مونږه وسيله پيش کوو- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د ژوند په هر ميدان کښې به مو کاميابي نصيب کيږي-

## په لږ ساعت کښې يې شِفا نصيب شوه

د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه واقعه ده، هغوئي په دويم ځل د حج د پاره تللو، د سمندر سفر وو- په لاره کښې يو کامران نومې ځائے راغلو، دلته تقريباً 10 ورځې قيام وشو-

هٔغه وخت د ترکي د عاشقانِ رسول حکومت وو، اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: په کامران کښې د حاجيانو د پاره ډير ښهٔ انتظامونه شوي وو- ډاکټران حضرات موجود وو، هر قِسمه سهولتونه ورکړے شوي وو-

سُبۡحٰنَ الله! د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د نيکۍ د دعوت جذبې ته وګورئ! 10 ورځې په هٔغه ځائے کښې قيام وو، اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به روزانه هلته د حج مسافر راجمع کول او هغوئي له به يې د حج تربيت ورکولو، ورسره به يې د عشقِ رسول نه ډک زړهٔ راښکونکي بيانونه هم فرمائيل-

الله پاک دې مونږ ته هم توفيق راعطا کړي، که په کور کښې يو او که په سفر کښې، که په بس کښې يو او که په جاز کښې، کاش چې په هر ځائے کښې د نيکۍ دعوت عام کړو-

خير! په کامران کښې د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د حج د قافلې د قيام نهمه ورځ وه، سخته دا شوه چې د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه او د هغوئي سره چې کوم ملګري وو د هٔغه ټولو طبيعت خراب شو- ډيره پريشاني شوه، سبا په سفر هم روانيدل وو، د حج ورځې هم

رانزدې شوې وې- که ډاکټرانو صاحبانو ته پته ولګېده چې دا خلق بیماران دي نو هغوئي به د سفر نه منع کړي، د حج وخت به تیر شي- که ډاکټرانو ته نۀ وائي نو طبیعت به څنګه ښۀ کیږي، ټول پریشانه وو- پۀ داسې پریشانئ کښې د یو ربنتوني عاشقِ رسول نظرکوم طرف ته کیدے شي---؟

اَللّٰہُ اَکْبَر! اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ خپلو ملګرو ته وفرمائیل: ټول لږ صبر وکړئ---!! زۀ اوس راځم- پۀ دې فرمائیلو هغوئي بهر د ځنګل پۀ طرف تنهایۍ ته تشریف یوړلو، پۀ حدیثونو مبارکو کښې چې د پریشانۍ پۀ وخت د کومو دعاګانو لوستل راغلي دي، هغه یې ولوستلې، د **اللّٰه** پاک پۀ حضور کښې یې خواست وکړو، ورسره یې د غوثِ پاک شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ نه مدد وغوښتو، د هغوئي وسیله یې پیش کړه، فرمائي: بس د 10 منټو خبره وه، زۀ واپس د ملګرو خوا له راغلم، اَلْحَمْدُلِلّٰہ! ټول داسې صحت مند شوي وو لکه چې هغوئي هډو بیماران نۀ وو- یواځې دا نۀ چې درد ختم شو بلکې د درد پۀ وجه چې کومه کمزوري وه، هغه هم ختمه شوه-(1)

سُبْحٰنَ اللّٰہ! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دي د وسیلې برکتونه---!! که هر څنګه پریشاني وي، سخته وي، هر څه معامله وي، د **اللّٰه** پاک پۀ حضور کښې حاضر شئ، د دعا د پاره لاسونه پورته کړئ او د **اللّٰه** پاک د نبیانو، د ولیانو وسیله وړاندې کړئ، اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیْم! وران کارونه به مو سم شي-

| | |
|---|---|
| خدا کے فضل سے ہم پر ہے سایہ غوثِ اعظم کا | ہمیں دونوں جہاں میں ہے سہارا غوثِ اعظم کا |
| بلیات و غم و اَفکار کیوں کر گھیر سکتے ہیں | سروں پر نام لیووں کے ہے پنجہ غوثِ اعظم کا |
| جہازِ تاجراں گرداب سے فوراً نکل آیا | وظیفہ جب انہوں نے پڑھ لیا یا غوثِ اعظم کا(2) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، حصّہ دوم، صفحہ:187186ملخصاً۔

2... قبالۂ بخشش، صفحہ:93ملتقطاً۔

## وسيله د انبيائے کرامو عليهمُ السَّلام طريقه ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د اللّٰه پاک په حُضُور کښې وسيله پيش کول د انبيائے کرامو عليهمُ السَّلام طريقه ده- اللّٰه پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِیْلَةَ اَیُّهُمْ اَقْرَبُ (پاره:15، سورۀ بنی اسرائيل:57)

ترجمه کنزُالعِرفان: هغوئي پخپله د خپل رَبّ طرف ته وسيله لټوي چې په هغوئي کښې څوک زيات مُقرب دے-

يعني د اللّٰه پاک فرښتے، داسې حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت عُزَير عَلَيْهِ السَّلَام کوم چې پخپله هم د اوچتې مرتبې والا نبيان دي، دوئي پخپله هم د اللّٰه پاک په حُضُور کښې وسيله لټوي، لټوي چې څوک د اللّٰه پاک زيات قرب لرونکے دے، د پاره د دې چې د هغۀ وسيله د اللّٰه پاک په حُضُور کښې پيش کړے شي-(1)

## حضرت زکريا عَلَيْهِ السَّلَام وسيله پيش کړه

په قرآنِ کريم کښې د حضرت زکريا عَلَيْهِ السَّلَام واقعه موجوده ده- د دريمې سيپارې، سورۀ آل عمران آيت نمبر: 37 کښې اللّٰه پاک د دې واقعې تفصيل بيان کړے دے- حضرت زکريا عَلَيْهِ السَّلَام د اللّٰه پاک نبي دے، د هغوئي اولاد نۀ وو، کور وداني محترمه يې هم بوډۍ شوې وه، هغوئي د خپلې کور ودانې د خورزې حضرت مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا پالنه په خپله ذمه واخسته او هغه يې په بيتُ المقدس کښې په يوه کمره کښې ديره کړه- هٰغه وخت حضرت مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا د پئيو خښلو ماشومه وه- يوه ورځ چې کله هغوئي د حضرت مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا کمرې ته تشريف يوړلو نو اوئې کتل چې هلته بے موسمه ميوې پرتې دي، هٰغه ميوې کومې چې په هٰغه ورځو کښې هډو په مارکيټ کښې هم نۀ وې- هغوئي وفرمائيل:

---

1...تفسير قرطبی، پاره:15، سورۀ بنی اسرائيل، زيرِ آيت:57، جز:10، جلد:5، صفحه:173 ماخوذاً-

| قَالَ يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا ؕ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے مریم! دا تا له د کوم ځائے نه راځي؟ |
| --- | --- |

حضرت مريم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡها کومه چې هُغه وخت د پئيو څښلو ماشومه وه، اوئې وئيل:

| هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: هغې جواب ورکړو: دا د الله له طرفه دي۔ |
| --- | --- |

حضرت زکريا عَلَيۡهِ السَّلَام چې کله دا خبره واوريدله نو پوهه شو چې حضرت مريم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡها د **الله** پاک په بارګاه کښې اوچته مرتبه لري۔

اګر که حضرت مريم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡها نبيه نهٔ وه، وَلِيَّه وه، حضرت زکريا عَلَيۡهِ السَّلَام د **الله** پاک نبي دے، د هغوئي مقام، مرتبه، شان او عظمت د حضرت مريم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡها نه ډير اوچت دے، د دې باوجود هغوئي پهٔ ژبه باندې نهٔ بلکې عملي طور د هُغه ځائے وسيله د **الله** پاک پهٔ حُضُور کښې پيش کړه او هم هُغه کمره چرته چې د **الله** پاک پهٔ رحمت سره بے موسمه ميوې راغلې وې، هلته ودريدو او هغوئي دُعا وکړه: **اے الله پاکه! ما ته ځوي راعطا کړې۔**

سُبۡحٰنَ الله! نو بيا د هغوئي دُعا قبوله شوه او **الله** پاک هغوئي ته د حضرت يحيٰ عَلَيۡهِ السَّلَام پهٔ شان عظيمُ الشان ځوي عطا کړو۔(1)

## د دُنيا د ټولو نه وړومبۍ کاميابي څنګه حاصله کړے شوه؟

تاسو ته يوه ايمان تازه کوونکې خبره وکړم! اِنسان چې کله دې دُنيا ته راغلو، کله چې يې پهٔ دُنيا باندې قدم کيښودو نو پهٔ دې زمکه باندې چې د انسان د ټولو نه وړومبۍ کومه کاميابي نصيب شوې وه، هغه هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوم پهٔ وسيله باندې نصيب شوې وه۔ آو جي! پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي او دا حديثِ پاک اِمامِ بيهقي او نورو ډيرو محدثينو ذِکر کړے دے، د حديثِ پاک خُلاصه دا ده چې د

1...صراط الجنان، پاره:3، سورۂ آلِ عمران، زیرِ آیت:37، جلد:1، صفحه:468، 470ملتقطاً۔

حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه چې په جنَّت کښې هُغه کوم لغزش [تیر وتنه] شوې وه (هغه ګناه نهٔ وه، غلطي نهٔ وه بلکې یو لغزش وو خو

جن کے رُتبے ہیں سِوا، ان کی سِوا مشکل ہے

څوک چې د لویو مرتبو والا وي، هغوئي خپل معمولي لغزش هم کم نهٔ ګڼي، خیر! **اللّٰه** پاک حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ زمکه کښې خپل خلیفه جوړ کړے وو، نو هغوئي زمکې ته راکوز کړے شو)، بیا به حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته د خپل دې لغزش پهٔ وجه د **اللّٰه** پاک نه ډیره حیا ورتلله (پهٔ بعضو روایتونو کښې دي: هغوئي پهٔ دې وجه د 300 کالو پورې ژړل [(1)]) اخر هغوئي د **اللّٰه** پاک پهٔ بارګاه کښې عرض وکړو: **اے اللّٰه پاکه! ما د مُحَمَّد** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **پهٔ وسیله باندې معاف کړې۔**

بس د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسیله پیش کول وو،چې **اللّٰه** پاک د هغوئي تیر وتنه معاف هم کړه او ورسره یې وفرمائیل: اے آدمه! لَوْلَا مُحَمَّدٌ مَا خَلَقْتُكَ یعنې اے آدم عَلَيْهِ السَّلَام! که مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نهٔ وے نو ما به تهٔ هُم نهٔ پیدا کولے۔[(2)]

| | |
|---|---|
| نوح و خلیل و موسیٰ و عیسیٰ | سب کا ہے آقا نامِ مُحَمَّد |
| دونوں جہاں میں دنیا ودیں میں | ہے اک وسیلہ نامِ مُحَمَّد |
| شیدا نہ کیوں ہو اس پر مسلماں | رب کو ہے پیارا نامِ مُحَمَّد[(3)] |

سُبْحٰنَ اللّٰه! د دې نه یو خو دا معلومه شوه چې پهٔ دُنیا کښې اِنسان ته د ټولو نه وړومبی کامیابي هُم د وسیلې پهٔ برکت میلاؤ شوې ده، دویم دا هم معلومه شوه چې د **اللّٰه** پاک د مقبول بندګانو پهٔ وسیله، بحقِّ فلانکي وئیلو سره دُعا کول د اَبُو البَشَر حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام سُنَّت دي۔[(4)]

1...تفسیر درمنثور، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:36، جلد:1، صفحہ:142۔
2...دلائل النبوۃ للبیھقی، باب ماجاء تحدث ...الخ، جلد:5، صفحہ:489۔
3...قبالۂ بخشش، صفحہ:134۔
4...تفسیر صراط الجنان، پارہ:1، البقرۃ، زیر آیت:37، جلد:1، صفحہ:108۔

واسطہ دیا جو آپ کا | میرے سارے کام ہوگئے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وسيله پيش کړه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! په مخلوق کښې د ټولو نه افضل، د ټولو نه اعلیٰ، د **الله** پاک د ټولو نه زيات قُرب لرونکے خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے- هغوئي د داسې شان والا دے چې دا زمکه، اسمان، پيريان، انسانان، فرښتے، غرض چې څۀ هم دي، ټول هم د هغوئي په برکت جوړ دي، ټول مخکښيني وروستني د **الله** پاک په حُضُور کښې هم د هغوئي وسيله پيش کوي، دومره زيات بلکې د ډير اوچت شان لرلو باوجود رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هم د **الله** پاک په حُضُور کښې وسيلې پيش کولې-

روايت واورئ! د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت عليُّ الْمُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خوږه مور جانه حضرت فاطمه بنتِ اَسَد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا وفات شوه نو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تبرک په توګه خپل قميص مبارک هغې ته واچولو- بيا د هغې په قبر کښې پخپله سملاستو او د **الله** پاک په حُضُور کښې يې دُعا وکړه: اَللّٰهُ الَّذِیْ يُحْیِیْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَیٌّ لَّا يَمُوْتُ **الله** پاک! چې ژوندے دے،چا له چې به چرې هم مرګ نۀ راځي، کوم چې حَیٌّ لَّا يَمُوْتُ دے، اِغْفِرْ لِاُمِّیْ فَاطِمَةَ اے رَبِّ کريمه زما مور جانه حضرت فاطمه اوبخښې، وَلَقِّنْهَا حُجَّتَهَا اے الله پاکه! هغې ته د نَکِيرَين د سوالونو جوابونه تلقين وفرمائې، وَوَسِّعْ عَلَيْهَا مُدْخَلَهَا او په دې باندې د دې قبر فراخه کړې- بِحَقِّ نَبِيِّكَ وَالْاَنْبِيَاءِ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِیْ فَاِنَّكَ اَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ اے الله پاکه! د خپل نبي (حضرت مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) او زما نه د مخکښينو ټولو نبيانو په وسيله زما دُعا قبوله کړې بے شکه تۀ د ټولو رحم کوونکو نه

زيات رحم کوونکے يې-(1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ! آيا په دې کائنات کښې د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه زيات چا ته د الله پاک معرفت نصيب شوے دے، هغوئي د ډېره شان والا دے چې صرف نظر د اسمان طرف ته کړي نو الله پاک قبله بدله کړي، چې په زرهٔ مبارک کښې يې ارمان راشي نو الله پاک د هغوئي ارمان زر تر زره پوره کوي، د داسې شان لرلو باوجود نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک په حضور کښې وسيله پيش کوي- دا د دې خبرې دليل دے چې وسيله د الله پاک ډېره خوښه ده، د دې په برکت الله پاک د رحمت نظر فرمائي-

## د وسيلې پيش کولو تعليم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! صرف دا نهٔ چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله خپله وسيله الله پاک ته پيش کړه بلکې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمت ته د وسيلې تعليم هم ورکړے دے- په اِبنِ ماجه شريف کښې حديثِ پاک دے او دا حديث اِمام ترمذي هم روايت کړے دے، صحابئ رسول حضرت عثمان بن حُنَيف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل يو نابينا صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بارګاهِ رسالت ته حاضر شو، عرض يې وکړو: اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د الله پاک په بارګاه کښې دُعا وکړئ چې زما سترګې تيک شي-

(سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عقيده وه چې يقيناً دُعا هُم الله پاک اوري، د ټولو اوري خو لکه څنګه چې د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوري، داسې د چا نهٔ اوري---!!)

اس کی بخشش، ان کا وسیلہ | دیتا وہ ہے، دِلاتے یہ ہیں

1...معجم کبیر، جلد:10، صفحہ:337، حدیث:20324۔

خیر! صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د دُعا درخواست وکړو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د پاره يواځې دعا اونکړه بلکې په مونږ غلامانو باندې يې کرم وکړو او دُعا يې راته وښودله چې تر قيامته پورې د هغوئي غلامان د دې دُعا نه برکتونه حاصلوي- نو نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: په ښه طريقه اودس وکړه! بيا 2 رکعته نـمونځ وکړه! بيا داسې دُعا وکړه!

اَللّٰھُمَّ اِنِّیۡ اَسۡئَلُكَ، وَاَتَوَجَّهُ اِلَیۡكَ بِمُحَمَّدٍ نَبِیِّ الرَّحۡمَةِ، یَا مُحَمَّدُ اِنِّیۡ قَدۡ تَوَجَّهۡتُ بِكَ اِلٰی رَبِّیۡ فِیۡ حَاجَتِیۡ هٰذِهٖ لِتُقۡضٰی، اَللّٰھُمَّ فَشَفِّعۡهُ فِیَّ

اے الله پاکه! زۀ ستا نه سوال کووم او ستا د محبوب، نبي رحمت حضرت مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وسيله ستا په حضور کښې متوجه يم، اے مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زۀ ستاسو په وسيله باندې د خپل رَبّ په حضور کښې متوجه يم د پاره د دې چې زما حاجت پوره شي- اے الله پاکه! زما په حق کښې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سفارش قبول کړې- [1]

حضرت عثمان بن حنيف رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: هٰغه صحابي د هٰغه ځائے نه پاڅيدو، اودس يې وکړو، 2 رکعته نـمونځ يې ادا کړو، بيا يې د خوږ آقا، محبوبِ خُدا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښودلے شوې دُعا وکړه، مونږ لا هلته ناست وو چې هغه واپس راغلو خو واه! سُبۡحٰنَ الله! کله چې تلے وو نو نا بينا وو او چې کله واپس راغلو نو كَاَنَّهُ لَمۡ يَكُنۡ بِهٖ ضَرٌّ قَطُّ بيا داسې وو لکه هغوئي ته چې هيڅ تـکليف هم نۀ وو- [2]

سُبۡحٰنَ الله! دا دے د وسيلې برکت---!! دا مبارک نـمونځ کوم چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هٰغه صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته ښودلے وو، دې ته **د حاجت نـمونځ** وئيلے

---

1...ابن ماجه، کتاب اقامة الصلاة والسنة فيها، باب ما جاء في الصلاة الحاجة، صفحه:224، حديث:1385-

2...معجم کبير، جلد:4، صفحه:415، حديث:8232-

شي- دا تجربه شوے عمل دے ❀ که هر څنګه مشکل وي ❀ پريشاني وي ❀ مصيبت وي ❀ هر قِسمه جائز خواهش ❀ ارمان ❀ ارزو نۀ پوره کيږي ❀ پۀ اِمتحان کښې کامیابي غواړې ❀ قرض ورکول وي ❀ شِفا غواړې ❀ نـمونځونو ته مو ډېږ نۀ لګي ❀ ګناه پريښودل او نيک بنده جوړيدل وي، غرض که د دِين او د دُنيا هر قِسمه حاجت هم وي، نو تازه اودس وکړئ، دوه رکعته نـمونځ ادا کړئ، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ وسيله باندې، د هغوئي د ښودلے شوې طريقې مطابق دُعا وکړئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! هر حاجت به پوره شي-

## د خيټې ننکې[دانه] يـې فوراً ټيک شوه

اِمام اِبنِ اَبِي الدُّنيا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: يو ځل يو ګس د عبد الملک بن حيان خوا له راغلو، عبد الملک د هغۀ خِيټه چيک کړه، د چيک کولو نه پس يـې ووئيل: ستا داسې بيماري ده د کومې چې هيڅ عِلاج نشته (يعنې اوسه پورې د دې بيمارۍ علاج نۀ دے پيدا کړے شوے)- هغه ګس پريشانه شو او پوښتنه يـې وکړه چې څۀ بيماري ده؟ اوئې وئيل: ستا دُبَيلَه ده (يعنې ستا پۀ خِيټه کښې ننکې [دانه] ده، کيدے شي چې نن سبا دې ته کينسر وئيلے کيږي)- بيا چې هغه ګس دا خبره واوريدله نو ډير پريشانه شو او واپس لاړو، او د الله پاک پۀ حضور کښې حاضر شو او عرض يـې وکړو: اللهُ! اللهُ! رَبِّيْ لَاۤ اُشْرِكُ بِهٖۤ اَحَدًا! يعنې د الله پاک پناه! د الله پاک پناه! هغه زما رَبّ دے، ما د هغۀ سره څوک هم شريک نۀ دے ګرځولے- بيا هغه هم دا دُعا وکړه:

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَتَوَجَّهُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَبِيِّ الرَّحْمَةِ، يَا مُحَمَّدُ اِنِّيْ اَتَوَجَّهُ بِكَ اِلٰى رَبِّكَ وَرَبِّيْ اَنْ يَّرْحَمَنِيْ مِمَّا بِيْ

اے الله پاکه! زۀ ستا پۀ حُضُور کښې ستا د نبي، د رحمت والا نبي، حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ وسيله متوجه شوے يم، اے مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زۀ ستاسو پۀ

وسيله باندې د خپل رَبّ په حضور کښې متوجه يم د پاره د دې چې هغه زما دې بيمار حالت ته د رحمت نظر وفرمائي۔

اِمام اِبنِ ابي الدُّنيا رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ليکلي دي: هٰغه کَس د دې دُعا کولو نه پس بيا راغلو، عبد الملک بن حيان بيا د هغهٔ خِيټه چيک کړه نو په حيرانتيا سره يې ووئيل: مَابِكَ عِلَّةٌ اوس ستا هيڅ مرض نشته۔(1)

سُبۡحٰنَ الله! څومره مُجَرَّبه نُسخه ده۔ مونږ هم دا نُسخه اِختيارولے شو، که څهٔ مشکل وي، څهٔ پريشاني وي، هر قِسمه سخته وي، د الله پاک په حُضُور کښې حاضر شئ او د محبوبِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسيله پيش کړئ! د هغوئي ښودلے شوې دُعا وکړئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! کاميابي به مو نصيب شي۔ د حاجت په دې نـمونځ کولو او دُعا کولو کښې بس د دې يوې خبرې خيال ساتئ چې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يَا مُحَمَّد په اواز سره رابلل منع دي۔ داسې قِسمه دُعاګانې کومې چې په حديثونو کښې راغلې دي او په هغې کښې يَا مُحَمَّد لفظ هم راغلے دے، علمائے کرام فرمائي: په داسې ځايونو کښې ادب دا دے چې مونږ د يَا مُحَمَّد په ځائے يَا رَسُوۡلَ الله ووايو۔ (2) ظاهره ده چې مونږ وارهٔ خلق يو، مونږ خو نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته په نوم سره اواز نه شو کولے! مونږ ته خو ادب کول پکار دي او ادب په دې کښې دے چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د نوم په ځائے په مختلفو ښکلو ښکلو لقبونو سره اواز وکړو۔ الله پاک دې مونږ ټولو ته د عِلم او د عمل او د ادب کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## نيک اَعمال هم وسيله ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته د يوې بلې خبرې لږ نور وضاحت کووم۔ د وسيلې

---

1...موسوعه ابن ابی الدنیا، کتاب مجابی الدعوة، جلد:2، صفحه:379، رقم:127ملخصاً۔

2...فتاوی رضویه، جلد:30، صفحه:157 خلاصةً۔

معنیٰ ده: كُلُّ مَا يُتَوَسَّلُ بِهٖ اِلَى اللهِ يعنې هر هغه څيز يا کار د کوم په ذريعه چې د **الله** پاک قُرب حاصل کړے شي-(1)

يقيناً چې انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام، اوليائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم، د **الله** پاک نيکان بندګان هم د **الله** پاک د قرب موندلو ذريعه ده، د هغوئي محبت، د هغوئي سره مينه د **الله** پاک قُرب ورکوي- البته چې کوم نيک اعمال دي، دا هم يوه وسيله ده- آؤ جي! هره هغه هستي، هر هغه کار، هره هغه څيز کوم چې **الله** پاک ته د نزدې کيدو ذريعه ده، هغه وسيله جوړولے شي- مثلاً ❀ په نـمونځ کولو سره **الله** پاک ته نزدې کيږي، ځکه دا هم يوه وسيله ده ❀ په روژو نيولو د **الله** پاک قُرب نصيب کيږي، دا هم يوه وسيله ده ❀ په زکوٰة ورکولو ❀ په صدقه او خيرات کولو ❀ په حج کولو ❀ په عمرې کولو ❀ تِلاوت کولو ❀ د ذِکر او درود په ذريعه ❀ غرض دا چې د هر نيک کار په ذريعه د **الله** پاک قُرب نصيب کيږي، لهذا **هر نيک کار يوه وسيله ده**، هم داسې ❀ د **الله** پاک د نيکانو بندګانو په ادب کولو ❀ د هغوئي سره په محبت لرلو ❀ د هغوئي په بارګاه کښې په حاضريدو ❀ د هغوئي په زيارت کولو ❀ د هغوئي په ذِکر کولو د **الله** پاک رحمتونه نصيب کيږي، زړهٔ روښانه کيږي، د دننه تور والے پاکيږي او د **الله** پاک قُرب نصيب کيږي، لهذا دا د **الله** پاک نيکان بندګان، نبيان وَليان ټول وسيلې دي-

## د غار نه نجات څنګه حاصل شو---؟

تاسو يقين وکړئ چې وسيله دومره د کمال څيز دے چې بعضې وخت داسې کارونه کوم چې په ظاهره ډير مشکل بلکې ناممکنه په نظر راځي، د وسيلې په برکت داسې مشکلات هم حل کيږي- په **بُخاري شريف** کښې **حديثِ پاک** دے، زما او ستاسو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تيرو اُمتونو د دريو کسانو واقعه بيان کړه،

1...تفسير سمعانى، پاره:15، سورهٔ بنى اسرائيل، زيرِ آيت:57، جلد:3، صفحه:351۔

واقعه لږه شان اوږده ده زۀ يـې لږه شان مختصر عرض کووم- درې کسان وو، هغوئي چرته روان وو، پۀ لاره کښې تيز باران شروع شو، هغوئي د باران نه د بچ کيدو د پاره د يو غر غار ته ننول، هغوئي پۀ غار کښې دننه وو، بهر تيز باران وريدو، پۀ دغه وخت کښې يو غټ ګټ راوښويدو او د غار خُلې له راغـے، غار بند شو، دننه پـکښې تيارۀ شوه--!! بهر د راوتلو لاره هم نۀ وه- ډير پۀ مشکل کښې راغلل، بيا هغوئي يو بل ته ووئيل: تر ننه پورې چې مو څومره نيک اعمال کړي دي، ستاسو پۀ نظر کښې چې پۀ هغې کښې کوم د ټولو نه افضل عمل وي، د الله پاک پۀ بارګاه کښې د هغې وسيله پيش کړئ! نو ❁ پۀ دې کښې يو د مور او پلار د خِدمت والا نيکئ وسيله پيش کړه او دُعا يــې وکړه: اے الله پاکه! زما د مور او پلار د خِدمت والا نيکئ پۀ برکت دا ګټ دومره لرې کړې چې مونږ اسمان ووينو- څنګه چې هغۀ د نيک عمل وسيله وړاندې کړه او دُعا يــې وکړه نو هُغه وخت ګټ لږ شان وخوزيدو او اسمان پۀ نظر راغلو ❁ بيا دويم کَس خپله د الله پاک د ويرې او د حيا والا نيکئ وسيله پيش کړه او ويــې وئيل: اے الله پاکه! زما د دې نيک عمل پۀ برکت سره دا ګټ نور هم لرې کړې- نو ګټ نور وخوزيدو ❁ بيا دريم کَس خپله د امانت دارئ والا نيکئ وسيله وړاندې کړه او دُعا يــې وکړه: اے الله پاکه! زما د دې امانت دارئ پۀ وسيله دا ګټ نور هم لرې کړې- څنګه چې هغه دُعا وکړه نو زمونږۀ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: هُغه ګټ کوم چې د غار خُله بنده کړې او هغوئي يــې قيد کړي وو، د هغوئي د نيکو اعمالو د وسيلې پۀ برکت هُغه ګټ لرې شو (او هغوئي ټول پۀ خپله لاره باندې روان شول)- (1)

سُبْحٰنَ الله! دا دے د وسيلې برکت--!! لهذا چې کله هم څۀ مشکل وي، پريشاني وي، مصيبت وي، تنګدستي وي، څۀ کار کول غواړې، پۀ يو ميدان کښې کاميابي غواړې نو نيک

---

1...بخاری، کتاب الادب، باب اجابة دعاء من...الخ، صفحه:14931492، حديث:5974 خلاصةً۔

کارونه کوئ، د خپلو نیک اعمالو پۀ وسیله وړاندې کولو، د انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلام، اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم خاص طور د نبي الانبیاء، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسیله پیش کوئ او دُعا کوئ، د **الله** پاک پۀ حُضُور کښې حاضریږئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! کامیابي به مو نصیب کیږي۔

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## پۀ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: نیک اَعمَال

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د صحیح اسلامي عقائدو زده کولو، د عمل د جذبې حاصلولو، د نیکو کولو او د ګناهونو نه د بچ کیدو ذهن حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي دیني ماحول سره وابسته شئ، د ذیلي حلقې په 12 دیني کارونو کښې پوره پوره برخه اخلئ۔ اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! ډیر برکتونه به درنصیب شي۔ د ذیلي حلقې د 12 دیني کارونو نه یو دیني کار: د **نیک اعمال** رسالې په ذریعه خپله جائزه اخستل هم دي۔

**الله پاک فرمائي:**

| | |
|---|---|
| وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ (پ:28، سورۂ حشر:18) | ترجمہ کنزُالعِرفان: او هر کَس دې وګوري چې هغۀ د سبا د پاره مخکښې څۀ لیږلي دي۔ |

❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: عقل مند هغه دے چې خپله محاسبه او د مرګ نه وروستو ژوند د پاره عمل وکړي [(1)] ❁ د ځان د اصلاح او د شیطان نه د بچ کیدو بهترینه طریقه هم دا ده چې مونږ د خپلو عادتونو، خپل کردار او د خپلو اعمالو جائزه اخلو۔

**پۀ دې وخت کښې** امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د

---

1...ترمذی، ابواب صفة القیامة، صفحه:583، حدیث:2459۔

خپل ځان د جائزې اخستو اسانه طريقه ښودلې ده: رساله نيک اعمال ✿ د زيات عمر اسلامي ورونړو د پاره پۀ نيک اعمال رساله کښې 72 سوالونه او جوابونه ليکلے شوي دي ✿ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي ✿ هره ورځ د سوال لوستلو سره خپله جائزه اخستل دي او خانے ډکول دي ✿ د ښۀ اسلامي ژوند تيرولو بهترينه نسخه ده ✿ د دې پۀ ذريعه پته نه لګي چې د څومره خلقو اصلاح شوې ده

تاسو هم دا رساله واخلئ! هره ورځ خپله جائزه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! ډيره فائده به در ورسي ✿ اخلاق به مو ښۀ کيږي ✿ کردار به مو ښۀ شي ✿ عادتونه به مو ښۀ شي ✿ پۀ نيکو باندې به استقامت درنصيب شي ✿ د ګناهونو نه به مو نفرت شي ✿ زړۀ به مو روښانه شي ✿ د الله محبت به مو نصيب شي ✿ عشق رسول به مو زيات شي ✿ روحانيت به درته ميلاؤ شي او ✿ د اخرت فکر به مو نصيب شي۔

راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو:

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## روزانه د جائزې اخستو انعام

يو اِسلامي ورور وائي چې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زما د نيک اعمال سره محبت دے او د دې پۀ ذريعه روزانه خپله جائزه اخستل زما معمول دے۔ يو ځل زۀ د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافله کښې د عاشقانِ رسول سره د بلوچستان صوبې (پاکستان) پۀ سفر ووم۔ هٰغه وخت پۀ ما ګنهګار باندې کرم وشو۔ داسې وشول چې زۀ کله د شپې اوده شوم نو بخت مې رابيدار شو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوب کښې تشريف راوړلو، اوس لا پۀ جلوو کښې ورک ووم چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو څوک چې پۀ مَدَني قافله کښې روزانه د نيک اعمال رسالې نه خپله جائزه اخلي زۀ بۀ هغوئي د ځان سره جنّت ته بوځم۔

شکریہ کیوں کر ادا ہو آپ کا یا مصطفیٰ | کہ پڑوسی خُلد میں اپنا بنایا شکریہ

صَلُّوْاعَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د کلمه اينډ دُعا (Kalma & Dua) ايپ تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن پۀ نوم د کلمه او دُعا (***Kalma & Dua***) جاري کړے دے- د دې ايپلي کيشن پۀ ذريعه ډير په اسان انداز کښې د ماشومانو تربيت کيدے شي ❀ پۀ دې ايپلي کيشن کښې د ماشومانو د پاره 6 کلمې د آډيو پۀ شکل کښې د حرفونو د اداکولو او د ترجمې سره ❀ د روزانه 16 مختلفې دُعاګانې مثلاً د اوبو څښلو دُعا ❀ د ډوډۍ خوړلو نه مخکښې او وروستو دُعا ❀ د پئيو څښلو دُعا ❀ د اودۀ کيدو پۀ وخت دُعا وغيره د حروفو د ادائيګۍ او ترجمې سره او پۀ مختلفو موضوعاتو باندې سُنت او آداب وغيره شامل دي- پۀ خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او فائده ترينه واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْاعَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❀ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ مَدَني چينل باندې لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې خالي پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نمونځ نه پس پۀ مَدَني چينل پاؤ باندې 9 بجې اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له هم دعوت ورکړئ ❀ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د

يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د اوليائے کرامو شان په ژبه د قرآن** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ✿ مکـتبة الـمدينه د غوث الاعظم شيخ عبد القادر جيلاني په سيرت مبارک باندې د يو ډير ښکلي ايمان تازه کوونکي کتاب د چاپ کولو سعادت حاصل کړے دے: **غوثِ پاک کے حالات**- په کوم کښې چې د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مبارک ژوند، د هغوئي عبادتونه، عِلم، تقوىٰ او د دِين د تبليغ ښکلي اړخونه بيان کړے شوي دي- دا کتاب د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه په **100 روپے** په بيعه حاصل کړئ، پخپله يې هم ولولئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ټيلي تهون ترغيب

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** ستاسو خپل ديني تنظيم دعوتِ اسلامي په ديني او فلاحي خدمت کښې مصروفِ عمل دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! ✿ د کنز المَدارس بورډ په نوم د دعوتِ اسلامي خپل تعليمي بورډ دے- ✿ تقريباً **20 زره 235** جامعات او مدارسُ المدينه (د هلکانو او جينکو) قائم دي، په کومو کښې چې حفظ او ناظره، عالم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات (Specialization)، او د فرائض علومو کورسونه کولے کيږي- ✿ د جامعاتو او مدارسُ المدينه د طلباء و طالِباتو (يعني د هلکانو او جينکو) شميره کم و بيش **5 لکه 65 زره 695** ده- ✿ د لوي عمر اسلامي ورونو او خويندو ته د قرآن کريم د تعليم ورکولو د پاره په زرګونو مدارس المدينه بالغان او بالغات لګولے کيږي په کومو کښې چې د لوستونکو اسلامي ورونو او خويندو شميره په لکونو کښې ده- ✿ د فيضان آن لائن اکيډمي په ذريعه

تقریباً 27 زره طلباء او طالبات دیني تعلیم حاصلوي او د 60 زرو نه زیاتو طلباء و طالباتو مختلف کورسونه مکمل کړي دي- ❁ تر اوسه پورې تقریباً 21 دار الافتاء اهلسنت قائم کړے شوي دي په کومو کښې چې د شرعي رهنمائیو شمیره ماهانه اوسطاً [تقریباً] 20 زره ده- ❁ د المدینةُالعلمیه (اسلامِک ریسرچ سنټر) په ذریعه په دیني لټریچر باندې تحقیقي کار سر ته رسولے کیږي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې شعبې لاندې تر اوسه پورې په 2045 کتابونو او رسالو کار شوے دے- ❁ په سوشل میډیا (مثلاً، یوټیوب (Youtube)، فیس بک (Facebook)، انسټاګرام (Instagram) وغیره) باندې موجودو اکاؤنټونو باندې تقریباً 60.43 ملین (Million) یعني 6 کروړه 43 لکه فالورز (Followers) دي- ❁ او مدني چینل اردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کډز مدني چینل، د مشرانو مدني چینل او د عربي ویب چینل په ذریعه د دینِ اسلام خدمت روان دے- ❁ د آئي ټي شعبې له طرفه تر اوسه پورې 35 موبائل ایپلي کیشن او 44 اسلامک ویبسائټونه لانچ کړے شوي دي- ❁ په تیرو 12 میاشتو کښې تقریباً 9 لکه 60 زره اسلامي وروڼو په قافله کښې سفر کړے دے- ❁ د کورسز شعبې لاندې تر اوسه پورې تقریباً 92 زره 455 کورسونه شوي دي، د 19 لکو نه زیاتو کسانو په دې کورسونو کښې شرکت کړے دے- ❁ په هفته واره اجتماع کښې د شرکت کوونکو شمیره اوسطاً 6 لکه ده- ❁ ټرانسلیشن ډیپارټمنټ تر اوسه پورې په 45 ژبو کښې [تقریباً] د 8 زره کتابونو او رسالو ترجمه کړې ده [په پښتو ژبه کښې د قرآن مجید کَنزُالْعِرفان د مختصر تفسیر سره ترجمه شوې ده او دا چاپ شوے هُم دے او تاسو یې د مکتبةُ الْمدینه نه حاصلولے هُم شئ، ټول نیّت وکړئ چې د قرآنِ مجید دا ترجمه به پخپله هُم حاصلوو او نورو ته به هم ترغیب ورکوو، هُم دا شان په پښتو کښې په سوونو کتابونو او رسالو او بیانونو ترجمه شوې ده]- ❁ د خُدَّامُ الْمساجدوَالْمدارس الْمدینه لاندې تقریباً 7 زره 243 جوماتونه جوړ شوي دي- ❁ د غمجن امت د خیرخواهئ د پاره 3 زره 719 د روحاني علاج بستې قائمې دي

کومو ته چې ماهانه اوسطاً **8 لکه 20 زره** مریضان راځي- ۞ په ټوله دنیا کښې د مسلمانانو د خیرخواهۍ د پاره د **ایف جي آر ایف** شعبه قائمه ده، د کومې لاندې چې تر اوسه پورې: ۞ تقریباً **88 لکه 3 زره** نه زیاتو کسانو/کورونو مدد شوے دے- ۞ **6 زره 7 سوه 88** کورونه تعمیر کړے شوي دي- ۞ د **76 زرو** نه زیات **د وینې ډرېونه** عطیه کړے شوي دي- ۞ هیلتھ کئیر سنټر ته تر اوسه پورې **74 زره 7 سوه** نه زیات مریضان راغلي دي-

د دې ټولو کارونو او د دعوتِ اسلامي د نورو ټولو دیني او فلاحي کارونو جاري ساتلو د پاره د دعوتِ اسلامي د اربونو روپو اخراجات [یعنې خرچې] دي- د دې اخراجاتو [یعنې خرچو] پوره کولو د پاره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! په **12 اکتوبر 2025** باندې **ټیلي تھون** [چنده مُهم] کیږي، د کوم یو یونټ چې **10 زره پاکستانۍ روپۍ** دے- خپل عطیات [چنده] دعوتِ اسلامي ته ورکړئ، **ستاسو چنده یعنې ډونیشن په هر جائز، دیني، اصلاحي، فلاحي، روحاني، د خیرخواهۍ، خیر شیکړې او د آمدن زیاتولو په جائز او محفوظه کار کښې لګیدے شي د پاره د دې چې ورځ په ورځ زیاتیدونکي اخراجات [یعنې خرچې] پوره کړے شي-**

دعوتِ اسلامی کی قیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي- [1]

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ښهٔ اخلاق د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

د اخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه فرامين مبارک: (1): پهٔ ايمان کښې زيات کامِل هغه دے د چا چې اخلاق ښهٔ وي۔ [1] (2): د ښهٔ اخلاقو نه بهتر مسلمان ته هيڅ خيز نهٔ دے ورکړے شوے۔ [2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! ښهٔ اخلاق د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي۔ ❀ حضورِ اقدس صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د هر يو سره د ښو اخلاقو او محبت سلوک فرمائيلو ❀ نهٔ به يې ځوک رټلو او نهٔ به يې ستغې سپورې وئيلې ❀ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْھُم ته به پهٔ کتلو مُسکے کيدلو، د هغوئي سره، د هغوئي د بچو سره به يې خوش طبعي فرمائيله، ماشومان به يې پهٔ غيږه مبارکه کښې کښينول ❀ د مريضانو تپوس به يې کولو ❀ پهٔ محفل کښې به چرې هم پهٔ غزيدلو ښپو نه کښيناستلو ❀ پهٔ سلام کښې به [د بل نه] وړومبے کيدلو [يعني په ملاقات کښې به يې د بل نه مخکښې سلام کولو] ❀ ټول به يې پهٔ ښهٔ نوم سره رابللل ❀ د نورو خبره به يې نهٔ کټه کوله۔

اللہ پاک دې مونږ ته هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اخلاقو اختيارولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

بنا دو صبر و رضا کا پیکر | بنوں خوش اخلاق ایسا سرور
رہے سدا نرم ہی طبیعت | نبیِّ رحمت شفیعِ اُمّت

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...ابو داود، کتاب السنه، باب دليل علی زيادة الايمان، صفحه: 737 حديث: 4682۔

2...شعب الايمان، باب فی حُسنِ خلق، جلد: 6، صفحه: 235، حديث: 7992۔

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت مينځنئ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.(1) راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ١٥١ ملخصًا

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴾4﴿ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحۡمَد صَاوِى رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

---

1 ... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

3 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.(1) راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 . . . تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵